دشهيد نجيب الله ربنتيا خبري

که مي خوله راباندي بنده کړي غږيږم
که لاسونه مي ولچک شي نه ويريږم

دربنتيا خبرې هر خومره ترخي شي
زولني مي که په پښو شي زه خوزيږم

چي شهيد نجيب الله جار له وطن شو
دا دده خبرې اورم پرې ځوريږم

سريي خپل ورکړ ميره وه دميراني
هماغه موده په يادکړم سوچ ته لويږم

چي قسم يي په دوطن خوړلی ده وه
هوډ له پوهي سره ګډ اوس پرې پوهيږم

ده ويل ،چي ګوره پام کوئ چي نشي
دکابل د کوڅو وينو نه ډار يږم

هماغسي شوې خبرې تيک يي ووې
اديرې چي دکابل وينم ژړيږم

ده ويل چي ،ګورئ چور به داکابل شي
له دې غلو ،سرې وژنکو څخه ډاريږم

زما له پښو لاندې غالئ وي هغو ويوړې
لا تر اوسه بل هيواد کي ترې خبريږم

اوس هماغه دقدرت په څوکه ناست دي
حق ناحق ته ورکوي پرې حيرانيږم

دشهيد او شهادت مقام ډير ستر دی
دشهيد نجيب الله په نوم دريږم

دميراني سر يې تل اوچت له قده
دتاريخ پاڼي همدا ،چې پرې پوهيږم

ددې لارې شهيدان دي خداى ببنلي
جې ورکړي خپل سرونه پرې وياړيږم

دژوند کربښې دتاريخ په بدلون درومي
تل دخلکو ګټې غواړم نه تيريږم

دامې ګوند دامي ده لاره بل څه نشته
دشهيد نجيب ارمان لار ته رسيږم

امرالدين سرحد
مسکو

۲۲-۰۹ ۲۰۱۴